آصف بهاند
۲۰۲۶/۰۵/۱۸

# بلاربه جگړه

جگړه بدمرغه په هرځای بلاربه وي

جگړه په هرهشپېه

جگړه په هره سا کې

سل زر بلا زېږوي

هرې بلا سره بېشمېره واویلا زېږوي

جگړه بلا زېږوي

د جگړې ټول اسباب اجل دی مرگ دی

د مځکې سر پرې ډک دی

ترمځکې لاندې هم بلاوې خښې

پاس په اسمان کې هم بلاوې گرځي

**موږ چېرې ولاړ شو چې بلا نه خلاص شو**
**کوم لور ته مخ، چې واویلا نه خلاص شو**

۲۰۲۵/۰۲/۲۴
هېدرسلیف
ډنمارک

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ